قوای مسلح در همکاری با مردم نقش تعیین کننده ایرا در تحقق این همه پیروزیها دارد، مبتنی بر همین واقعیت رفیق نجیب الله گفته اند: ((سربازان، افسران و منسوبین قوای مسلح کشور! از وطن آزاد، مستقل، بیطرف وصلحجوی خود دفاع کنید. از تمامیت ارضی کشور و استقلال پاسداری نمایید.))

مطمیناً منسوبان قوای مسلح، این پاسداران دلیر میهن، به خاطر اجرای وظایف وطنپرستانه ازهیچگونه تلاش دریغ نمی ورزند واگر ضرورت افتد، حاضر اند بهترین هستی، یعنی جانهای شانرا فدای امر مردم وندای پاك وطن که آنها را به دفاع از خود می طلبد، سازند.

بریدجنرال ارکان حرب غلام سخی اتمر



سربازان و افسران قوای مسلح ج.ا. به خاطر تامین صلح و امنیت در سرا سر کشور بدون درنظر داشت شب و روز، دلیرانه میرزمند تاهموطنان رنجدیدهٔ شان در فضای صلح وآرامش زنده گی کنند.

عکس: یك تن از افسران شجاعیکه به خاطر تطهیر سرك ها و مناطق عبور ومرور مردم از وجود ماین های گوناگونیکه دشمنان جاگذاشته اند، همیشه با از خود گذری تلاش میورزد

عکاسی بابه خان

ما به اقتضای شرایط و زمان اردوی خویش را با سلاح مدرن که قادر به دفاع مطمین از جمهوری افغانستان باشد، تجهیز مینماییم و در آینده نیز چنین خواهد بود. این اساس دوکتورین نظامی ما که خصلت دفاعی دارد، در مطابقت کامل قرار دارد.

رفیق نجیب الله

دنیلی آسمان په غیږ کې

(لمړی مخ پاتې)

کې سر په سر د کابل، ګردیز ننګرهار . . . په ښارونو، باندې دد ښمن دتو غندیو په واسطه دیو شمیر خلکو دوژنې خبرونه اوری دغو خوا شینیو آن تر اوسه نه ؤ خوشی کړی هغه کتابچه په خپل مخ کې وغوړ وله دواړه څنګلې یې پر میز کیښودې اولاسونه یې خپل مخ ته تکیه کړل، تخیل یې په خپله خپلواکه او زړور الوتنه پیل وکړ.

هغه دپاڼو پرمخ کرښې نه لوستلې، بلکې دخپل تیر ژوند اندیښمنې صحنې یې لیدلې. هسې خوانسان ته دخواشینیو په شیبو کې دژوند ټولې ناخوالې را په زړه کیږي: دتیر ژوند هغه شپې او ورځې یې په یاد راغلې چې هر سهار به دراپاڅیدو سره سم، مخکې له مخکې کړاوونه ورته انتظار ولاړ وو، د بغلان «جرخشك» او هلته یې خپل کور، خپل بزګر پلار او خپل بیوزله ژوند په سترګو شو، او بیا یې د «اختر» شپه په زړه شوه، دهغه اختر شپه چې ددوی په کور کې بوره نه وه، چای نه ؤ، ډوډی نه وه، یوازې سل افغانۍ وې چې جوارې پرې وشوې او بس. د«ابو محمد» ښوونځی یې په مخ کې ودریده چې دی به لوڅې پښې ورتلو او راتلو. او چې پلار ته به یې په ژړغونې ښه وویل: «زه خو نور لوڅې پښې ښوونځی ته نشم تللی، ډیره یخنی ده». او پلار یې په سبا ور ته دوه سوه افغانۍ له چا څخه پور کړې وې او ده ته یې پرې بوټان واخیستل.

«آه، څومره مهربانه دی دپلار او مور زړونه! کاش دټولو انسانانو زړونه د یو بل په نسبت همدومره مهربانه وای!»، لدې سره یې سم د خپلې مور جسد دسترګو په وړاندې ودریده هغه چې دده په نازکه کوچنیوالی کې د مهربانۍ سترګې له دنیا څخه پټې کړې اوچې دی کور ته راننوت، مورېې په تغز ستونې ستیغ مړه پرته ولیده، نو کرار ور ته په زنګنو کښیناست او سریې د هغې په سینه کښیښود، هق هق یې وژړل... اوس یې هم اوښکې په بنو کې کړې شوې ژر یې له کتابچې څخه سر راپورته کړ چې په خونه کې څوك نه وي او پرې و نه خاندي، اوس خو کوم کوچنی نه دی چې ژاړي، بلکې دهوایي اتل غند د قوماندانۍ مرستیال دی او ده خو ژړا دناتوانۍ نښه ګڼله او آن په رنځورۍ او ډیره سختۍ کې هم سر با لښت او ناتوانۍ ته نه کښېښود، خو داځل شاعر ځواب ورکړ: «هر یو مغ کله لایق دمغ رویی دی

اوښکې نه دړو مې په مخ دهر ناولی»

او لدې سره، اوښکو یې پر غټ مخلاری وکړې او ترمې ترمې کښته شوې او پر کتابچې تر یې شوې. بیا دهر بې ښوونځی په تړلو دیوالونو کې دخپل شپږ کلن ژوند دځینو شیبو په یادیدو سره دخوا شینیو ژورو ته کښته شو، هلته چې دپنجشنبې په ورځ به کوروالا په ډیری خوښی سره کورونو ته

اونور بې کوره پیسه داران به دښار او میر ویس میدان رستورانونو ته روان وو، دی به دکورا وپیسو په نه لرلو سره دځان او کالیو وینځلو په بهانه په ښوونځي کې پاتې کیده او په «شمالی برنده» کې به د درسونو په لوستلو بوختیده. په کتابچه کې یې بیا ولوستل: «یو دوه ګیز مې څلور میاشتې

اتل پیلوټ په دوه سوه جګړه ییزو عملیاتو کې برخه اخیستې او ۲۰۰۰ ساعته یې الوتنه کړې ده

په جیب کې وګرځاوه....» څومره با دسپلینه ژوند یې په ح.ښ، کې درلود ممکن ددرسونو لوستلو او بادسپلینه ژوند لرل دده د ناچارۍ څخه وه، اما ده خو په شوروي اتحاد کې دخپلو دري کلنو زده کړو په وخت کې هم با دسپلینه ژوند کاوه.

له خونې به نه وتلو او که به وتلو نو یا به کتابتون ته تلو او یا به تر پارکه پورې. نو آیا ښتیا هم له بادسپلینې څخه تراتلوالۍ پورې یو ګام فاصله نده؟ ...

د دا ډول عجیبه لوستنو، سوچونو او تصورونو لړۍ به تر ډیره اوږده شوې وه که چیرې د «انجنیری محل» څخه دالوتنې د پیل وخت نه وای اعلان شوی. عبدالوهاب په بیړې سره ځان خپلې الوتکې ته ورساوه ځکه چې هغه باید تر نورو لومړی

دهدف په لور هوا ته پورته شوی وای. الوتکې ته درسیدو سره یې، نورو دننۍ شپې هوایي مزل ملګرو پیلوټانو ته دلوګر په محمد آغه کې هدف او دهغه څرنګوالی په لنده توګه بیان کړ. دپیلوټۍ خولۍ یې په خپل سر نوره هم ښکته کړه، د میدان په اوږدو کې یې تیارو ته یو نظر واچوه، طبیعت په کرار خرب بیده و، بیا هم په بیړې سره دالوتکې په پوړۍ پورته شو، د کابین سریې پرانیسته، په کابین کې چې دده دځان په نسبت تنګ و، ټینګ کښیناست، وریې ورپسې وتاړه، سمدلاسه یې میدان ته دشور او زوږ روح ورکړ او ترڅو نور پیلوټان الوتکې ته ختل، وهاب دخپل هوایي ملګری سره د ګربت په خیر هواته دپغمان په لور پورته شو، دمیدان په سر یې نیم دوز وڅرخاوه اودهدف په لور سم شو.

پیلوټ ته د پخوانیو الوتنو څخه معلومه وه چې دالوتنې دپیل څخه تر محمدآغه پورې پنځه دقیقې لاره ده. هغه خو دشپې ډیری الوتنې کړې وې او دشپې دالوتنو ډیری ستونزې یې زغملې وې، دورځنی او دشپنی، تعلیمی او محاربوی الوتنو ټولې خواوې ور ته معلومې وې، سخت پروازونه یې کړې و، دداخلي تخنیکرانو په واسطه دمنځنی ترمیم وروسته یې الوتکه د لومړی ځل لپاره دمیدان څخه هوا ته پورته کړې وه چې دهغه په مقابل کې یې یو دیپلومات بکس او یوه کامره مکافات ترلاسه کړې وه، ډیری نوری الوتنې یې کړې وی: په ۲۰۰ جګړه ییزو عملیاتو کې یې پروازی ونډه اخیستې وه، ۲۰۰۰ ساعته یې الوتنه کړې وه، څلور ځلې یې الوتکه د دښمن له خوا ویشتل شوې وه، دخپلو الوتنو په مقابل کې یې تر اوسه ۱۲ ستاینلیکونه، دوې فوق العاده ترفیع ګانې، دوه ساعتونه، څو څو واری نغدي پیسې، یوه لنګې، څلور مډاله، دری نښانونه او داسې نور مکافاتونه تر لاسه کړې وه.

خو داپلا یې خپله الوتنه تر ټولو درنده احساس کړه، ځکه دښمن یې باید له منځه وړی وای که نه دښمن به بې شمیره بې ګناه خلک په وینو لړل چې پاس یې کتل دتیارو په زړه کې ور ته آسمان ښکاریده او لاندې یې چې کتلې بیا هم ور ته آسمان ښکاریده، ښه ورته نه معلومیده چې الوتکه یې پورته روانه ده او که کښته دهدف په سر وریځ وه او الوتکه سمه هدف ته نژدې په وریځو ننوتې وه. پیلوټ خپل حالت د لاسه ورکړ، بې خودۍ پرې راغله، دالوتکې په آلاتو یې هم مغز کار نه کاوه او دا ټول د پیلوټ دتوان څخه وتلې چارې وې.

خو بیا هم مسلکي هر اړخیز مهارت او پروازي تجربې یې ژر مرستې ته ورسیدې: عبدالوهاب دخپلې الوتکې لوړوالی کم کړ، دهدف په سر یې «پیکه» وکړه او د الوتکې زړه یې پرهدف خالی کړ، نورو پیلوټانو ته یې هم دخپلې لارې تعقیبولو ښوونه وکړه، خپله الوتکه یې پورته کړه اود بګرام په لور رهی شو.

دغا ځیو د علي خیلو په جګړه ییز فعالیت کې (په ۱۳۶۳ کال) کله چې دده الوتکې ضربه وخوړله، پیلوټ یوالځې دخپلې الوتکې یو ډول بې لورې کشش احساس کړ، اما د کومې بیړی او ستومانې پر ته یې الوتکه په میدان کښینوله، دالوتکې انجن لګیدلی و. دا ډول پیښې پری وار وار راغلې وې. په ۱۳۶۲ کال کې په اسمارو کې چې دده الوتکې ګولۍ وخوړله، الوتکې خپله موازنه دلاسه ورکړه، خو هغه خپل حالت دلاسه ورنکړ، الوتکې ښۍ لورې ته هیڅ نه تاویدله یوالځې کیڼ لور ته تاویدله پیښه خورا خطرناکه وه، پیلوټ ځرپلا هوډ وکړچې «کته پولت» وکړي او الوتکه خوشې کړي، ځان سلامت په پراشوټ کې کښته کړي، اما دالوتکې بیه ور ته څرګنده وه او په تعقیب یې هم دګرمن زلمی و، نه چې هغه ته کم رانشي، دپغمان سر ته یې ځان را ورساوه، هلته چې په ۱۳۶۰ کال کې هم دده الوتکه د دشکې په مرمۍ لګیدلې وه، د پغمان له سر څخه یې الوتکه مخامخ دبګرام میدان ته کښته کړه. دانقلاب د فعالو ګډون کوونکو په شمیر کې د عبدالوهاب پیلوټ عکس هم داتل غند په ښکلې موزیم کې خوندي دی. ددې جریان کیسه په خپله دوهاب له خولې دهغه دژوند د ډیری ښې ارزښتناکې خاطرې او په عین زمان کې دډیرې بدې مسلکې خاطرې په توګه کښو: زه د انقلاب څخه یو کال دمخه د شپږ پنځوسم کال کې د.ا.خ.د.ګ غړیتوب ته ومنل شوم. تر دې دمخه یو کال مې آزمایښتي دوره هم تیره کړې وه. دانقلاب څخه یوه ورځ دمخه د چهارشنبې په څلور نیمو بجو داستبداد د ماڼۍ دبمبار د دستور را کړل شو. د جمعې په ورځ ګهیځ وختې په اوه نیمو بجو ددارالامان په سر مې پیکه وکړه، پرما انداخت وشو ونه لګیده، خو چې دوهمه پلا بیا را ټیټ شوم، د دافع هوا مرمۍ دالوتکې په انجن ولګیده. چې الوتکې موازنه دلاسه ورکړه، ما «کته پولت» وکړ. دپراشوټ سره په یوه حویلۍ کې، په ونه کې بند شوم او بیا محکم پر ځمکه ولویدم. پښې مې دواړه ماتې شوې. له ډیره درده مې سترګې تورې شوې پـدې کور کې یوه ښځه وه په منډه زما مرستې ته راغله، د خبرې کولې شوې، زماله لهجې څخه پوه شوه چې دورد کوی یم. په ځغاسته لاړه او ما ته یې جامې راوړې. پښو مې ډیر درد کاوه. زه نژدی ډاکتر ته لاړم ډاکتر زه ددفاع وزارت ته بوتلم. په وزارت کې پر ما ضعف راغی، نور پر ځان پوه نشوم. څو ورځې وروسته چې په خود راغلم، په روغتون کې وم. شاوخوا مې خپل ملګری ولاړ وو. دانقلاب د بریښ زیری یې راکړ. څو ورځې وروسته مې دخپلې کورنۍ غړي هم راورسیدل. پوره دوی میاشتې په روغتون کې پاتی شوم. دا الوتنه زما دژوند له ډیرو ښو خاطرو څخه ده ځکه چې ما په خپلو رنو سترګو دانقلاب لومړی جریان ولیده، او په عین زمان کې دا زما په پیلوټی ژوند کې ډیره بده مسلکي خاطره ده ځکه چې زما پر الوتکه ګولی ولګیده ما الوتکه خوشی کړه او ځان مې وژغوره. یوه الوتکه څومره قیمت بها ده. وروسته تر دې خو مې الوتکه څو پلا ولګیده، خو الوتکه مې نسکوریدو ته نده پری ایښی خو د شپې الوتنو، په تیره بیا داسد دشپې الوتنه پرما ډیره ګرانه تمامه شوه.

داسد په لومړیو کې دهیواد د خپلواکۍ د جشن او داردو د ورځې په وړاندې ددغه شپې سختې الوتنې او خورا ښې نتیجې هغه داتلولۍ پوړ ته پورته کړ، دبګرام دهوایي ځواکونو دقوماندانۍ له خوا د افغانستان دجمهوري دولت داتلولۍ لقب له پاره لوړو مقامونو ته پیشنهاد شو.

ددغه پیشنهاد د قانونی مرحلو تر تیرولو پوری عبدالوهاب دهوایي ځواکونو ددې پاملرنې څخه په ناخبرۍ کې، دهیواد ډیری هوایي کرښې ووهلې او آن هغه وخت چې دده د اتلولۍ د منظوریدو مکتوب بیر ته د بګرام هوایی ځواکونو ته ورسیده، وهاب په هوا کې و ځکه چې هغه دانقلاب ددښمنانو او پاکستاني ملیشاو له خوا د تورخم دنیولو خبر اوریدلی و، کله چې هغه دغه خبر واورید په سینه کې یې توفان ځای ونیو الوتکه یې تر نورو ځلو په زیات غرمبهار پورته کړه.

دهیواد په ختیځو سیمو یې دور وواهه، د سنګرونو په شیطانې ټکا کې یې ددښمنانو په سرونو تندرونه کښته کول...

تورن محمد یوسف

حزب، مردم و قوای مسلح با هم اند

دد دنګو غرو په څوکو کې

زموږ خبریال له جبل السراج څخه رپوټ راکوي

دجبل السراج د سمسورو ګروندو تر څنګ، هلته چې دهندوکش دتاو را تاوو دنګو غرونو لومړنی لړی پکې هسکه غاړه ولاړه ده ولاړیم.

دلته دهیواد د اتلو سرتیرو اوسر ښندو ځلمیانو اودهمدغه لوړ اوسر کښې هندوکش د غرنیو زمریانو سنګرونه پراته دی، هغوی چې داوړي دسوځنده لمر تر تودو وړانګو او دساړه ژمی دیخو اوټوپانې سیلیو تر څپیړو لاندې په سر ښندنه دهیواد د خلکو دننګ اوشملې څخه په میړانه ساتنه کوي.

دغرونو دغو څوکو ته ختل آسانه نه دي، دغرونو څوکې له ځمکې څخه په زرګونو متره اوچتې او نیغې دي، خوله هرې خوا څخه سرتیری وینم او افسر ګورم چې ټوپك پرلاس دغرونو په همدغو څوکو کې په کلکو او ګړندیو ګامونو سره دامنیتي پوستو تر منځ لارې وهي، او له لرې ځایونو اوبه اود سرتیرو خواړه راوړي.

له بریدګی عبد الخالق سره چې پنځه کاله دمخه په خپله خوښه دافغانستان د وسله والو قواوو په ډله کې شامل شو، او دا دی له څو میاشتو راهیسی د جبل السراج دولسوالۍ دتاجیکانو دکلی په سره غره کې دامنیتي پوستې دقوماندان په توګه دنده سرته رسوي مخامخ کیږم او خبروته یې غوږ ږدم: افراطیونو په دې وروستیو وختونو کې د کابل ـ حیرتان دلویې لارې دامنیت دګډوډولو اودخلکو دهوسا ژوند دناراما کولو په خاطر خپلې لاره شلوونکې اولوټوونکې حملې زیاتې کړې، یو شمیر موټرونه او ترانسپورتی وسیلې یې لوټ او له ایرو سره برابرې کړې او ان چې دلارې دخیر مه کلیو ته یې ګواښ وکړ چې خپل کورونه پریږدی او پاکستان ته کډوال شي. خو اوس اوس موږ دهمدې لارې په اوږدو او د همدغو کلیو دخلکوپه بې درېغې مرستې سره دامنیتي پوستو دځای پرځای کولو سره جوخت دهغوی پلانونه شنډ اوپه هر ګوټ اوسیمه کې مو امنیت ټینګ او تامین کړی دی.

دپوستې له قوماندان سره لاپه خبرو اترو بوخت یم چې دهغې پوستې یو تن سرتیری چې ځان یې محمد عیدی معرفی کړ په خبرو پیل وکړ اوویې ویل: کله چې مودلته نوې امنیتي پوستې جوړې کړې افراطیونو په سپین سترګې سره څو ځله وغوښتل چې له نږدې څخه دی له موږ سره جګړه وکړي، همداسې یې هم وکړل خوزموږ سرتیرو او افسرانو هغوی ته داسې ریز مریز کوونکی ګوزارونه ورکړل چې اوس دی سیمو ته ان په شپه کې هم دراتللو وس نه لري.

له پوستې را کښته کیږم او د تاجیکانو کلې ته ځم. دهمدې کلي له یوه تن بزګر څخه چې ملامحمد نومیږی پوښتنم چې د کلي دامنیتي وضعې په باب معلومات راکړي.

هغه وویل: څو ورځې دمخه افراطیون کلي ته راغلل او موږ ته یې ګواښ وکړ چې په څلرویشتو ساعتونو کې خپل کورونه پرېږدو، هغوی غوښتل چې زموږ په کورونو کې ځالې وکړي څو وکولی شي له نږدې څخه دسالنګ لویه لاره وتړي.

دهغې شپې پرسبا د کلي ټول سپین ږیري او ځوانان سره جرګه شول اودجرګې پریکړه مو دجبل السراج دقواوو مسوولینو ته ورسوله. هغوی زموږ دخلکو سره دمرستې له پاره راودانګل او اوس دادی موږ دوسله وال پوځ له سرتیرو سره اوږه په اوږه دخپل کلي او کروندو ساتنه کوو او نه پرېږدو چې افراطیون زموږ او زموږ دکورنیو آرام ژوند نا آرامه کړي.

ننګیال

شاعری بازبان شسته وبی تکلف

خلیل الله «رووفی» در سال ۱۳۲۱ هـ ش دردرهٔ زیبا ودل انگیز پنجشیر دریك خانواده روشنفکر زاده شده است. پدر ش میرزا عبدالروف نویسنده، شاعر و سرشناس محل و منطقه خود بود.

رووفی از دورهٔ کودکی به آثار شعری وادبی علاقه فراوان داشته به آثار حافظ شیرازی، حضرت ابو المعانی بیدل و مولانای بلخی شناسائی پیداکرد وهمراه باز ندهگی عسکری سخت کوشید تا از دامان فرهنگ بدور نماند.

به همین علت رو به کارهای مطبوعاتی آورد و درمجله اردو ارگان نشراتی وزارت دفاع ج.ا، وظیفه دارگشت. وی هم شعر میسراید وهم به کار های ژورنالیستی اشتغال دارد، و آثارش در جراید و مجلات کشور به نشر رسیده است.

رووفی در میان شاعران وسرودگران اردو چهره درخور توجهی است و در قلمروشعر و ادبیات سیمائیست آشنا شده. در اشعارش روحیه وارسته کی همیشه احساس میگردد.

در کلام رووفی خوشبختی و بهروزی انسان، تپ وتلاش منحیث راه نیل به منزل مقصود مطابقت حرف باعمل همت عالی، انسان دوستی ووطنپرستی به قوت وجود دارد.

رووفی اثار بیشماری ترجمه کرده است و مقدارسرودههایش درشیوه معروف کلاسیك و نیمائی با سخن فهمی و درایت بیان شکل یافته است.

گیرائی سخن رووفی توان کشش انسان را به آتمسفیری که شاعر در آن زندهگی کرده است، تجربه اندوخته است و با «خویش خود» خلوت گزیده است دارد.

در عرصه سرایش، زشتی ها رانکوهیده و پاکی ها را تاقبه پرلمعان خورشید به نیایش گرفته است که زبان شسته و بی تکلف او دراکثر اشعارش گویای این باور است.



دگروال خلیل الله «رووفی»

او علاوه از آنکه نویسندهٔ خوبیست مترجم چیره دستی نیز بشمار میرود. و این چند بیت از اوست:

خامه شدفرسوده از تحریر ما
آه ازین فریاد بی تاثیر ما
یك شبی شورجنونی برنخاست
ازرگ خوابیدهٔ زنجیر ما
بی نیاز از باور هر تیره گی است
صیقل آینهٔ تصویر ما

نگاه

اخبار خــــارجـــــی، واقیعت ها، حــــوادث

دمشرۍ ګرباچف دسولې له پیشنهادونو څخه بین المللي ملاتړ

علمي او عملي پیشنهادونه

د کور یا د خلکو د دموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارو د وزیر له خوا په خپره شوی اعلامیه کې راغلي دي چې د استوګنې د چاپیریال او د بین المللي کړکیچو نو د کمښت په سیاست سره د امریکا ـ شوروی د خبرواترو په اړوند د شوروی اتحاد پیشنهادونه د تطبیق وړ دي.

په دغه سند کې ټینګار شوی چې دوسله والو ځواکونو د کمښت پر بنسټ د شوروی اتحاد تصمیم د نړیوالې بې وسلې کولو د علمي درک ښودونکی دی. همدا راز په اعلامیه کې هیله څرګنده شوی چې د امریکا لوری هم په دغه راز چلند اقدام وکړي او په چټکۍ سره د کور یا په جنوب او نورو سیمو کې خپل وسله وال ځواکونه کم او وباسي او د کور یا له ټاپو وزمې څخه د امریکا یی پوځیانو د پړاو په پړاو وتلو او د کوریا د جنوب او شمال تر منځ د بې وسلې کولو پر بنسټ د کوریا د خلکو د دموکراتیک جمهوریت سوله ییزو پیشنهادونو ته مثبت ځواب ورکړی.

دنړۍ په سیاسي فضا کې مثبت بدلونونه

هندی دیپلومات آر. اچ. پي و ده کانا رامان د اسیا ـ پسفیک په سیمه کې د نوښتونو تر شعار لاندې د ډیلي په بین المللي سیمینار کې وویل: په بین المللي ساحه کې د شوروی اتحاد د سوله ییزو ګامونو اوچتو لو په خاطر د نړۍ په سیاسي فضا کې مهم بدلونونه رامنځته شوی دي. دهستوی جګړې په اور کې د سوځیدو له خطر څخه دانسان ویره دی په دغه چار باوری کوی چې ټول دولتونه کولای شي سوله ییز ګډ ژوند ولري او هر کړکیچ د خبرو د میز له لارې داواری وړدي. دملګرو ملتو د سازمان په ۴۳ عمومي غونډه کې د شوروی د رهبر د سولې نوو پیشنهادونو په آسیا کې دکړکیچونو دله منځته وړلو او دسیاسي او پوځي لانجو په اواری کې داغیز من میکانیزم درامنځته کولو په باب مناسب وختونه منځته راوړی دي. همدا راز د هند د کمونیست ګوند منشي ددغه سیمینار ګډونکوونکو ته په خطاب کې د افغانستان د شاوخوا حالاتو په چټکۍ اواری کې د ملګری ګرباچف د نوښتونو دسملاسي ملاتړ اړتیا ته د هغوی پاملرنه جلب کړه او څرګنده یې کړه چې د افغانستان د مسئلې حل د دغه هیواد د خلکو د ګټو د تامین په باب دی چې په شخړو اخته ډلو کې بې له ځنډه خبرو ته مینه لري.

د پــــام وړتـــکی

د جاپان د بهرنیو چارو وزیر لوساکه یونو، د خپل هیواد په پارلمان کې وویل: د ش. ا. ک. د مرکزی کمیتې عمومي منشي میخائیل ګرباچف دعلنیت د پروسې دپراختیا او د هغې نوی فضا د رامنځته کولو په باب چې پخوا نیو رهبرانو ورته تمایل نه درلود په خپلې تګلارې سره په چټکتیا پرمخ ځي.

د جاپان د بهرنیو چارو وزیر د شوروی اتحاد دتصمیم دملاتړ په ترڅ کې چې ده هغه د ملګرو ملتو په سازمان کې د شوروی د مشر په وینا کولو کې د پام وړ ټکی وستایه، وویل: ضرور ده چې « دغه تصمیم په ځیر تیا سره سر ته ورسول شي او مفهوم یې درک شي.» هغه زیاته کړه، په نړۍ کې د سولې د تامین په باب له متحده ایالاتو نو سره د خبرو په دوام د شوروی اتحاد دمشر غو ښتنې زیات ارزښت لري.

د ث. ا. ح د بین المللي مسئلو څانګه

دم. م عمومي ټولنې په ژنیو کې خپله درېورځنۍ غونډه پیل کړه

دملګرو ملتو د سازمان عمومي ټولنې پرون دفلسطین دمسالې په باب دخبرو په باره کې دژنیو د ملتونو په ماڼۍ کې خپله درې ورځنۍ غونډه پیل کړه.

د نړیوال ارګان دغه ستره غونډه ده چې دملګرو ملتو دسازمان د عمومي ټولنې په دری څلو یښتمه غونډه کې دوینا په باب د فلسطین دآزادی غوښتونکې سازمان رئیس یاسر عرفات ته دورتګ دویزې له صادریدو څخه دامریکا د حکومت له دډې کولو څخه وروسته د لومړي ځل له پاره په ژنیو کې جوړیږي.

دملګرو ملتو د سازمان دغړو هیوادو استازی او په سلګونو ژورنالیستان چې له ټولې نړۍ نه په ژنیو کې را غونډ شوی دي دورځې په وروستیو کې په دغه عمومي ټولنه کې دیاسر عرفات وینا ته ستر ګې په لاره دي.

فلسطیني هیات هیله څرګنده کړې چې دغه غونډه اود. فلسطین د آزادی غوښتونکي سازمان دمشر خبرې د عربو او اسرائیلو د لانجې چې دفلسطین مساله د هغه په هسته کې ده د سیاسي حل دیو لړ بهیرونو په طرحه کې مرسته وکړي.

. دملګرو ملتو د سازمان سرمنشي هاویر پریزدیکویار دفلسطین دمسالې په باب دملګرو ملتو د سازمان دعمومي ټولنې په دری ورځنۍ غونډه کې د برخې اخیستو په خطر ژنیو ته رسیدلی دی.

ایریوان ته نړدې دمرستې دیوې الوتکې راغورځیدل

د شوروی اتحاد دبهرنیو چارو د وزیر مرستیال والنتین نیکیفو زوف وړمه ورځ خبر ورکړ چې دیوګوسلاویا یوه الوتکه چې د شوروی اتحاد ارمنستان جمهوریت ز لزلې ځپلو خلکو ته یې دمرستي مالونه لیږ دول د ارمنستان ښارته درسیدو په لاره کې راوغورځیدله او دهغې په نتیجه کې اووه تنه مړه شول.

دشوروی اتحاد دبهرنیو چارو دوزارت په مطبوعاتي مرکز کې دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د ژوری داد ګیرنې او همدردی مراتب ددغې پیښې دقربانیانو کورنیو ته څرګند شول.

د دریواورګاډو ټکــر دری پنځوس تنه ووژل

څه ناڅه دری پنځوس تنه هغه وخت مړه شول چې په دی درو ستیو وختو کې د لندن په جنوب کې دریو اورګاډو ټکر وکړ.

د لندن د اورګاډو یو خبرځای وویل: په دی پیښه کې څه ناڅه دوه سوه تنه ټپیان شول چې د ۱۴ تنو روغتیا یې حالت خطرناک دی.

د ژغورنې ټیم هڅه کوله هغه سپړلي چې دواګونو نو په منځ کې راګیر شوی و وژغوري

باختر

غلام اسحاق خان دپاکستان د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو

غلام اسحاق خان وړمه ورځ دیوې پنځه کلنې دورې لپاره د پاکستان د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو.

دپاکستان دجمهوري ریاست د انتخاباتو عالي کمشنر قاضي نصرت د راډیو او تلویزیون له لارې د انتخاباتو دنتیجو داعلام په ترڅ کې وویل: اسحاق خان داووه سوه شپږ اتیا رایو په سلو کې اته او یاچې دانتخاباتي کالج لخوا ورکړ شوی ترلاسه کړیدی وټاکل شو.

د اسحاق خان ستر سیال نوابزاده نصرالله خان په سلو کې نږدې شل رایې ترلاسه کړی دی.

د پاکستان د جمهوري ریاست نور کاندیدان یوزوړ سوداګر احمد ابراهیم هارون جعفر او ملك نوروز خان وو.

اسحاق خان چې دری اویا کلن دی کله چې ضیاء الحق داګست په میاشت کې دالوتکې دغورځیدو په پیښه کې ووژل شو دسنا مجلس رئیس و او دپاکستان داساسي قانون له مخې یې دموقت جمهور رئیس په توګه دهغه هیواد داداری دچارو واګې په غاړه واخستې.

اسحق خان دیوې پنځه کلنې دورې لپاره دانتخاباتو دکالج له خوا چې د پارلمان د دواړو مجلسو نو دری سوه شل تنه غړی اودسند، پنجاب بلوچستان او صوبه سرحد څلور وایالتو نو داسامبلو پنځه سوه استازی پکې دي وټاکل شو.

د پاکستان پارلمان بینظیر بوټو ته دباور رایه ورکړه

د پاکستان دملي اسامبلې دپارلمان داستازو دغونډې بشپړ اکثریت دبی نظیر بوټو حکومت ته دباور رای ورکړه. بینظیر بوټو دهغه هیواد دعقرب د ۲۶ نیټې په عمومي انتخاباتو کې بریالۍ شوه دغه پریکړه د۲۳۷ استازو له رایو څخه د ۱۴۸ موافقو رایو او ۵۵ مخالفو رایو په اساس وشوه.

دپاکستان د اساسي قانون له مخې دصدراعظم له ټاکل کیدو ۶۰ ورځې وروسته باید دهغه حکومت دباور رایې ترلاسه کړي. سیاسي کتونکي وایي دغه حقیقت دباور رایه له هغه وروسته چې بینظیر بوټو په رسمي دول دصدراعظمی په توګه اعلام شوه له دوو اونیو نه په لږه موده کې وشو څرګندوي چې هغه دملي اسامبلې په ملاتړ ډاډمنه ده.

ستر ګلید

دمسلم لیگ او پوځیانو ظریفه لوبه

(بقیه ص اول)

دیر نږدې مشاور غلام اسحاق خان د جمهور رئیس په توګه ومنی.

خو د بینظیری راتلو نکی اصلي ستونزه کومه او څه ده. خبره داده چې جنرال ضیاء الحق د ۱۹۷۳ په اساسي قانون کې چې د هغه داحکامو سره سم هیواد په پارلماني سیستم اداره کیده، څو څو ځله تعدیلونه راوستل او دغه سیستم یې په صدارتي یا پریز دنتشل بانندی واړاوه ان تردی چې په ۱۹۸۵ کال کې یې خپل نوم هم په اساسي قانون کې تر ۱۹۹۰ کال پوری د پاکستان د جمهور رئیس په توګه ثبت کړ. پدی توګه چې جمهور رئیس داواك لری چې صدراعظم لری کړی (لکه چې جونیجو یې لری کړ) پارلمان رنګ کړی او حتی د وسله والو قوتو نو قوماندانان په خپله وټاکی.

دبی نظیر بوټو تر ستو نزه داده چې که اسحاق خان وغواړی هغه لری کو لئ شي او که د پارلمان او حکومت چاری او پریکړی یې په ګټه نه وی هغه رنګ کړی اوکیدی شي چې اسحاق خان وروسته د لوړی د مراسمو په ځای کولو د ۱۹۷۳ کال د قانون د بیا ژوندی کولو څخه بیخي انکار وکړی او صدراعظمه له بیلا بیلو ستو نزو سره مخامخه کړی. کیدی شي د نواز شریف «اسلامي جمهوری اتحاد مشر» له لیو نیو هلو ځلو څخه دلاس اخیستو وجه هم د همدی احتمالي ډرامې په لوبو لو پوری اړه ولری پاکستان له دیر بحرانی دور څخه تیر یږی. وکتل شي چې څه کیږی خواصلی خبره داده چې ځوانه صدراعظمه بینظیر د زړه او پخو مسلم لیګی سیاست بازانو سره په یوی خطرناکی لوبی کی راګیر ده.

حقیقت انقلاب ثور
ارګان کمیته مرکزی حزب دموکراتیک خلق افغانستان
تحت نظر هیأت تحریر
مدیرمسوول: م. ح. بارق شفیعی
تیلفونها
مدیرمسوول: ۶۲۴۷۴
معاون اول: ۶۱۴۵۸
سکرترمسوول: ۶۳۶۱۴
شعبهٔ نامه‌ها: ۶۱۷۰۳
شعبهٔ اطلاعات: ۶۱۱۱۸
توزیع: ۶۲۸۵۹
سوچبورد: ۶۱۸۷۸
قیمت یك شماره «۲» افغانی
صندوق پستی: ۷۸۰
حساب بانکی: ۱۰۱۸ ابرو
چاپ آفسیت مطبعه آریانا

تراژیدی ارمنستان

(بقیه صفحه اول)

ارمنستان مجروح وسوگوار:

شهر های لینن اکان وسپیتاك از طیاره طوری به مشاهده میرسد که گویی منارهای یك شهر ویران قدیمی را مینگری. هر سو آوار هایی از خاك، پارچه های کانکریت، آهن پوشهای درهم فرور فته بچشم میخورد. فقط از نقشهٔ سرکها و جاده ها در می یابی که در اینجا شهر زیبا و آبادی وجود داشته است ولی حال هیچ آثاری از آن را نمیتوان دید.

اکنون نام ارمنستان، این سر زمین باستانی را مردم طوری بر زبان می آورند که گویی از یك شخص شدیداً مجروح نام میگیرند. این نخستین بار نیست که ارمنستان به چنین مصیبتی دچار میشود، حوادث سالهای قبل بیانگر آن است که بعد از وقوع وقایع مشابه در دامنه ها، کوه ها، وادی های این سر زمین، باغهای سر سبز به مشاهده میرسد، کلیسا و شهر ها از بین خرابه ها مجدداً سر بر می افراشتند و باز هم فرزندان این سر زمین جای گذشتگان را پر می ساختند.

هزاران چشم خفته در زیر خاک:

حالا باز هم یکبار دیگر طبیعت با این سر زمین جفا کرده است. هزاران چشم، برای اید در زیر خاك خفته اند. دریغا، آرزو های که زیر خاك شدند. دریغا، چشمانی که در آخرین لحظات منتظر نجات بودند و آخرین نفس های شانرا در زیر آوار های خاك کشیدند.

در مدت ۳۰ ثانیه، ۴۵ هزار کودك، زن، مرد، پیر و جوان به سفر بی بازگشت رهسپار شدند. جوانی که در برابر ساختمان مخروبه یی ایستاده، با چشمان گریان سخن میگوید: «دراینجا خانه برادرم موقعیت داشت. دختر و پسرش نیز همراه او بودند. نمیدانم آنها را دفن نموده اند و یا اینکه در شعله های آتش سوخته اند؟»

شهر ها هنوز میسوزند. درلینن اکان و سپیتاك ازچند روز بدینسو بخاطر خاموش ساختن آتش کار میشود ولی هنوز هم دود سیاه از اکثر نقاط بلند است. مردم در جستجوی عزیزان شان سرگردان اند. ناله و فریاد میکنند. وای کود کم، وای پسرم! شما شوهرم را ندیده اید؟ شما جسد همسرم را نیافتید؟ این سوالهای است که با هرکس مواجه شوی، برایت راجع میشود ولی باید با سکوت از کنارش بگذری زیرا پاسخ به آن آسان نیست.

چندین شبانه روز است که در مکاتب، کودکستان ها، مغازه ها و ساختمان های تخریب شده، جستجوی اجساد ادامه دارد. عمله های نجات به این امید کار میکنند تا بتوانند از زیر خرابه ها، انسان های زنده را نجات دهند ولی شاید برای بسیاری دیگر دیر شده باشد.

یکی از عمله های نجات میگوید: «ما توانستیم در اینجا از منزل دوم یک ساختمان یك کودك را که در زیر خرابه ها قرار داشت و به شکل تعجب آوری زنده مانده بود، از مرگ نجات دهیم.»

قلب بانندگان بلد وزرها و جرثقیل ها بافرورفتن هر بیل وسیله شان بر زمین، هزار بار می لرزد: خدا یا کمکم کن! هر بیل جسدی را با خود از زیر خاك بیرون می کشد. زنی در برابر ساختمان مخروبه یی نشسته است او پنج عضو خانواده اش رااز دست داده، اودیگر نمی گیرید. برای گریه کردن اشك لازم است و اشکهای او دیگر خشکیده است.

همه برای کمک با ارمنی ها:

این شعار در سراسر اتحاد شوروی مطرح است. طیاره های مملو از مواد خوراکی، پوشاکی، ادویه طبی وسایر وسایل امدادی شب و روز بدون درنگ به میدان هوائی ایروان مرکز جمهوری ارمنستان شوروی فرود می آیند و بیشتر از ۳۰ هزار انسان از سایر جمهوری های اتحاد شوروی به کمک این مردم مصیبت زده شتافته اند.

رفیق میخائیل گرباچف رهبر اتحاد شوروی هنگام عزیمت از ارمنستان اظهارداشت: «آنچه من در مدت دو شبانه روزدر اینجا دیدم، برای من سخت تکان دهنده بود.»

یکتن از باشنده گان گرجستان که به کمك ارمنی ها شتافته است میگوید: آنچه را ما اکنون مشاهده نمودیم قلب هر انسان را جریحه دار میسازد. همهٔ ما که در اینجا قرار داریم از حادثه واقع شده سخت متأثر و ناراحت هستیم ما مردم گرجستان، خود را در غم ارمنی ها شریك میدانیم. بنظر من کمك رسانیدن تا اندازه یی از غم واندوه مردم ارمنستان می کاهد. در سال گذشته، مردم ارمنستان با ما کمك نمودند وبه مساحت ۲۵ هزار متر مربع خانه های مسکونی برای ما اعمار کردند، حالا ما به غمشریکی آن ها شتافته ایم جوانی میگوید: ماشب گذشته مقدار کافی خون به نیاز مندان اهدأ نمودیم تا بدین ترتیب برای مجروحین کمك نموده باشیم.

غم شما غم ماست:

تراژیدی ارمنستان، سراسر جهان را تکان داد. هیچ قلبی نیست که امروز در جهان برای مردم مصیبت زدهٔ ارمنستان نگرید. رئیس جمهور افغانستان طی پیامی عنوانی رهبر شوروی همدردی عمیق افغا نها را با مردم آسیب دیده ارمنستان اظهار داشت، افغا نها عمیقاً در روز های که خلق برادر اتحاد شوروی در سوگ برادران ارمنی خویش به سر میبرند، با آن ها اظهار غمشریکی مینمایند.

رهبر کیوبا، خون خود را برای مجروحین این تراژیدی اهداء نمود. حکومت ایالات متحده طیاره های مملو ازمواد امدادی و عملهٔ نجات را به این سرزمین فرستاد، (۲۳) کشور دیگر نیز برای کمك با مصیبت زده های ارمنی اظهار آماده گی نمودند. درهند کمیتهٔ خاص جمع آوری اعانهٔ داوطلبانه برای کمك به قربانیان زلزله ارمنستان ایجاد شد، جمهوری دموکراتیك آلمان، مجارستان، الجزایر، جاپان، هسپانیا، یونان، ایران و اسرائیل کمکهای عاجل امدادی را برای ارمنستان ارسال کردند «ارماند همر» تاجر و شخصیت اجتماعی معروف امریکائی از لاس انجلس ذریعهٔ هواپیمای شخصی خویش به ارمنستان پروازکرد و علاوه بر اموال امدادی، چك یك میلیون دالری را به مصیبت زده گان جمهوری ارمنستان اهداء نمود.

در حال حاضر یك هزار تن از امداد گران و کار شنا سان کشور های خارجی مصروف بیرون کشیدن اجساد ومجروحین از زیر آوار های خاك اند. آن ها با وسایل بسیار عصری وسگ های تعلیمی مجهز اند. ارقامی که تا کنون بدست آمده میرساند که زلزلهٔ اخیر ۲۸ قریه را به کلی با خاك یکسان نموده است.

آری! ارمنستان سو گوار است خلق شوروی عزادار ند. جهان درانده قربانیان تراژیدی ارمنستان به سر میبرد و هزاران انسان همین حالاعملاً مصروف کمك به خلق مصیبت زده ارمنستان در شهر های آسیب دیده، کار نهایت انسانی را انجام میدهند. امروز غم مردم ارمنستان غم هرانسان روی زمین است.

ببرك احساس

☆ خانمیکه در حادثه المناك زلزله همه چیز زنده گی اش را از دست داده است
☆ نمایی از شهر ویران شده لنین آکان.
☆ گوشه یی از اجساد قربانیان فاجعه ارمنستان
☆ عمله نجات هنگام کمك به یك تن از آسیب رسیده گان
☆ گوشه یی از جریان مساعدت به آسیب دیده ها

عکسها از آ. پی. ان